مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۳/۲۶

# ستا په نوم لیک

ته مې د مینې معبود کړې او ستا عبادت مې پیل کړ .خو بیا مې زموږ په مینه کې بل تن شریک کړ، سره له دې چې پوهېدم شرک نه ښنل کیږي .سپین سترګي کوم او وایم :ومې ښه !په خپلې لویې مې وښه!

زه به هره ورځ ستا دروازه ټکوم، ته کولی شې سزا راکړې؛ خو له دې ډاډ سره چې له سزا وروسته به زما یې!

اوریدلي مې دي چې د ګناهونو تر سزا لیدلو او جهنم کې سوځوېدو نه وروسته مسلمانان جنت ته ځي.

نو ما خو د بېلتون دوزخ تېر کړی؛ هیله دې چې د وصل جنتونه راکړې !

لیکنه: مریم رانا

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ